نور محمد غفوری

۲۰۱۵-۰۷-۰۲

# بې له تانه د جنت په لوري نه ځم



بې لــه تانــه د جـنت پــه لـــوري نـــه ځـم
که دوزخ وی، خو جوړه به درسره ځم

دا ځــــه نــــوې خـــبر نـــه ده نـازنیني
ها پـخپلــــه پـخوانی مــواعده ځم

چې د عشق په اورکې سوی تک تور سکور یم
هـــمدا لاره مې ده لـویه فـریضه ځم

د رقیب لـــه تـهمـتونـــو مې باک نشـــته
زه پـــخپله کـره لار، غـره غـره ځم

څو ژوندی یم، څوچې ساه مې ځان کې ښوريږدا
د عشق او عاشــقانو پــه نعـره ځم

بل مې هـيڅوک رهـنما او رهـبر نشـــته
بس د میني پــه فـــرمان او رائحه ځم

ماچې ځـــان د خپل وطن لــه پـاره وقـف کړ
پښیمان نه یمـــه، همدا مې ګـزینه ځم

زما ځواک کمزوری مه بوله رقیبه
تـنـها نـــه ځم د ملګـرو مجموعه ځم